۲۰/۰۲ /۲۰۲۶

## رسمي اعلامیه

## د موسیقۍ د آلاتو د ویجاړولو او د افغانستان د وګړو د فرهنګي حقونو د نقض په غندنه کې

د بشري حقونو مدافعانو ټولنه (HRD+) دا اعلامیه د دې لپاره خپروي، څو د افغانستان د وګړو د فرهنګي حقونو د جدي او سیستماتیک نقض په اړه د نړیوالې ټولنې پام په بېړنۍ توګه راواړوي.

د مستندو راپورونو او خپرو شویو انځورونو پر بنسټ، د طالبانو ډلې د پروان او لغمان ولایتونو کې د موسیقۍ آلات راټول کړي او په ښکاره ډول یې سوځولي دي. د دې عمل د انځورونو قصدي خپرېدل په ټولنیزو رسنیو کې، د موسیقۍ د هنر د ځپلو او د هېواد د هنرمندانو پر وړاندې د وېروونکي فضا د رامنځته کولو یو هدفمند سیاست څرګندوي.

د موسیقۍ د آلاتو په ښکاره ډول له منځه وړنه د هنرمندانو، موسیقي پوهانو او هغو ټولو کسانو لپاره یو جدي ګواښ دی چې هویت او د ژوند وسیله یې له هنر سره تړلې ده. کله چې هنري وسایل سوځول کېږي، نو دا مشروع او ژوره اندېښنه راولاړېږي چې ښایي د هغو انسانانو برخلیک به څه وي چې د همدې هنر او کلتور ژوندي تمثیل کوونکي دي.

دا کړنه د بنسټیزو فرهنګي حقونو ښکاره نقض دی، کوم چې د نړیوالو معتبرو اسنادو له مخې، په ځانګړي ډول لاندې موارد کې تسلیم شوي دي:

- د بشري حقونو نړیواله اعلامیه (په ځانګړي ډول ۲۷ ماده)
- د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق (په ځانګړي ډول ۱۹ ماده)
- د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو نړیوال میثاق (په ځانګړي ډول ۱۵ ماده)

په فرهنګي ژوند کې ګډون، له هنر څخه د ګټې اخیستنې حق او د فرهنګي میراث ته د لاسرسي حق، د هر انسان له نه سلبېدونکو حقونو څخه شمېرل کېږي.

سربېره پر دې، د روانو سیاستونو له مخې، هنر په افغانستان کې عملاً یو منع شوی عمل ګرځېدلی دی او د طالبانو تر واکمنۍ لاندې هنري فعالیتونه له پراخو محدودیتونو سره مخ دي. هنرمندان، شاعران او فرهنګي فعالان له سیستماتیکې حذف، سختو محدودیتونو او امنیتي ګواښونو سره مخ دي. ډېری یې د نامعلوم او له خطره ډک حالت کې د خوندي لارو په تمه دي، تر څو وکولای شي خپل ژوند او مسلکي فعالیت ته دوام ورکړي؛ په داسې حال کې چې د هغوی د معیشت سرچینې او مسلکي هویت ته جدي زیان اوښتی دی.

موږ د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د شورا له ځانګړو میکانیزمونو، په ځانګړي ډول د بیان د آزادۍ، فرهنګي حقونو او د افغانستان د بشري حقونو د وضعیت له ځانګړو راپور ورکوونکو څخه غوښتنه کوو چې دا موضوع په بېړنۍ توګه د خپل کاري اجنډا برخه وګرځوي.

همدارنګه، له ملګرو ملتونو د ښوونې، ساینس او کلتور سازمان (یونسکو) څخه، چې د کلتور په برخه کې د ملګرو ملتونو تخصصي اداره ده، تمه کېږي چې د فرهنګي تنوع د ملاتړ او د هنري میراث د ساتنې په برخه کې د خپل ماموریت له مخې رسمي غبرګون وښیي او عملي اقدامات تر سره کړي.

په دې لړ کې، موږ د هغو افغاني هنري بنسټونو پر رول ټینګار کوو چې په تبعید کې خپل فعالیتونه جاري ساتي، لکه د افغانستان د ملي موسیقۍ انستیتوت، چې د موسیقۍ د هنر د ساتنې، روزنې او تداوم لپاره حیاتي مرکزونه ګڼل کېږي. د نړیوالو بنسټونو هدفمند ملاتړ د ځانګړو میکانیزمونو د رامنځته کولو لپاره، څو د موسیقۍ آلات، هنري آرشیفونه او ښوونیز ظرفیتونه خوندي شي، کولای شي د افغانستان د فرهنګي میراث د له منځه تلو د مخنیوي لپاره یو اغېزناک ګام وي، تر هغه وخته چې عدالت تأمین شي او عادي حالت بېرته هېواد ته را وګرځي.

Website: www.hrd-plus.net

Email: Info@hrd-plus.net

موږ همدارنګه ټینګار کوو چې د افغانستان د هنرمندانو او فرهنګي فعالانو ملاتړ باید عملي اقداماتو ته واوړي. د خوندي او قانوني لارو رامنځته کول او اسانتیا برابرول، په ځانګړي ډول د هنرمندانو او فرهنګي فعالانو لپاره د بشردوستانه ځانګړو ویزو پروګرامونه، یوه بېړنۍ اړتیا ده.

موږ تأکید کوو چې د موسیقۍ د آلاتو سمبولیکه له منځه وړنه یوازې د فزیکي شیانو له منځه وړل نه دي، بلکې دا د یو ملت د غږ، خلاقیت او فرهنګي هویت د چوپولو لپاره یو سیستماتیک هڅه ده.

نړیواله ټولنه باید د داسې کړنو پر وړاندې چوپه پاتې نه شي. د فرهنګي حقونو د نقض پر وړاندې چوپتیا، د هنري ځپنې د عادي کېدو او د بشري حقونو د نړیوالو ارزښتونو د کمزورۍ معنا لري.

د بشري حقونو مدافعانو ټولنه

(HRD+)